**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر برى

۲۰۱۸/۰۸/۳۰

# لیونی زړه

زه اوس څه وکړم په خپل دی لیوني زړه
چي لا اوس هم ښکلي وینم په درزا شي

نه یی شرم، نه هم زما عمر ته ګوري
بس په خپل سر خندنی شي بی حیا شي

راکې ویښ کړي ویده شوي هوسونه
راکې پټ، پټ امیدونه برالا شي



او که چیرې یو وار وګوري ناپامه
ده کې خدازده څه اسرې هیلي پیدا شي

راته جوړ کړي محلونه د خوبونو
د تریخ ژوند تپه تیاره رڼه رڼاشي

بس په ویښو سترګو سر شم په خوبونو
بس پرشونډو راخوره خوږه موسکا شي

بیرته ځوان شم، بیرته هیر کړمه نور هر څه
بیرته ورانه د زړښت ورانه دنیا شي

خو چې لږ شیبه پس بیرته راپه حال شم
تکه توره مي ترسترګو هره خوا شي

بیا هماغه زه، هماغه زړبوډي وي
بیا هماغه مایوسۍ د زړه بلا شي

له ګوګله مي یو سوړ اسویلی ووزي
بی اختیاره دا خبر ذهن ته راشي:

زه اوس څه وکړم په خپل دی لیوني زړه
چي لا اوس هم ښکلي وینم په درزا شي

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ